آصف بهاند ۲۰۱۶/۰۹/۱۲

# مباح الدم؟؟؟

د مني زيړي او سرې پاڼې سره ګډې ناځي

رنګ مې تک زیړ دی لکه زیړه پاڼه

د ونو سرو پاڼو ته ګوري

زړه مې داسې سور دی

لکه حلال یو پسه

چې له پرې کړې ستوني

هر څاڅکې وینې سره

پاس خدای ته غږ هم کوي

خو بنده ګوري ورته

خاندي ورته

په لوړ آواز «الله اکبر» هم وايي

زما د مظلومو کلیوالو وینه

دا دی څو دیرش کاله پوره شول

چې حلاله ګڼل کیږي او تویږي پسې

الله اکبر هم ویل کیږي پسې

او انسانان مباح الدم هم ګڼل کیږي پسې

۱۹،۰۶،۲۰۱۴
هیدر سلیف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ